بسم الله الرحمن الرحيم

**خبر او تبصره**

# افشا شوي اسناد د چين د مسلمانانو د شکنجې نور جزيات ښيي

**خبر:**

د ۲۰۲۰م کال د فبروري په ۱۶مه، بي بي سي د هغو افشا شوو اسنادو په اړه رپوټ خپور کړ، چې د چين په توقيف خونو کې د مسلمانانو د ژوند وضعيت ښيي. سلګونه زره مسلمانان د چين دولت په توقيف خونو کې په زور بندي شوي او دا شرط پرې اېښودل شوی چې چينايي کلتور ومني او پر دوی د هر ډول وضعه شوو قوانينو په ماتولو سره مجازات کېږي.

**تبصره:**

د چين په سينکيانګ کې د مسلمانانو نيول او په توقيف خونو کې ساتل نوې خبره نه ده. دوی له کلونو راهيسې د خپل دين په سبب ځورل کېږي او د روژې په مياشت کې دغه تاوتريخوالی او وحشت زياتېږي. د دغو جنايتونو په اړه د بشري حقونو نړيوالې ادارې خبرې کړای شوې دي، خو له شکنجې او مغز مينځلو څخه د دغو کسانو په ژغورلو کې په بشپړه توګه ناکامې وې. د ښځو حجاب لرې کېږي، د نرانو ږيرې خرييل کېږي او پر ټولو اسلامي اصولو تېری کېږي. پر مسلمانانو په زور د خوګ غوښه خوړل کېږي او په زور الکول پرې څښل کېږي. د دې هر څه او د مسلمانانو د نسل وژنې او له هغوی څخه يې د عقيدې اخيستو پر وړاندې نړۍ خاموشه ده، ترڅو د نورو مسلمانانو لپاره بېلګه شي. دوی هيله لري چې د مومنانو په زړونو کې وېره واچوي او خپلې خبرې پرې ومني، دا ښيي چې دوی غواړي په سياسي او ټولنيزو ځورونو او مجازاتو ځان بېغمه کړي.

په سينکيانګ کې د چين د پاليسيو يو نامتو کارپوه ډاکټر ادريان زينز پر دې باور دی، چې وروستي افشا شوي اسناد ښيي چې د چين مسلمانان رښتيا په ډېر بد حالت کې دي. دی وايي: «دغه مهم اسناد په دې اړه تر ټولو قوي شواهد دي، چې بيجېنګ عملاً داسې کسان ځوروي او شکنجه کوي چې په نارمل ډول په خپل دود او ديني عقايدو پسې روان دي.» د اسلامي نړۍ حکام هم په چين کې زموږ له مظلومو خويندو او وروڼو سره مرسته نه کوي او نه يې ازادوي. د دغه توقيف په سبب زرګونه ماشومان له خپلو والدينو بېل دي. څنګه کولی شو د خپل امت لپاره غږ پورته نه کړو، په داسې حال کې چې چيغې يې د رسنيو د سانسور ديوال چوپ کړې دي؟ په دغو وروستيو افشا شوو اسنادو کې د هغو ۳۱۱ کسانو د څېړنو جزيات، د دوی بکرونډ، مذهبي عادات او له سلګونو خپلوانو، ګاونډيانو او ملګرو سره د دوی اړيکې شاملې دي.

په وروستي کالم کې لیکل شوې خبره يې دا پربکړه کوي، چې دا کس په توقيف کې وساتل شي او که خوشی شي او دا چې پخوا خوشي شوي کسان بېرته راوستل شي که نه. دغه غير انساني چلند يوازې د خلافت په راتګ ختمېږي، هغه وخت به دغه مظلوم مسلمانان په زور ازاد کړی شي. ښکاره ده چې د ملګرو ملتونو پالیسی مسلمانان د نړۍ په کچه په ظلمونو کې يوازې پرېږدي. موږ د چين مسلمانانو ته له الله سبحانه وتعالی څخه صبر غواړو او الله سبحانه وتعالی دې دوی ته په ايمان کې د ثابت قدمه پاتې کېدو اجر ورکړي. الله سبحانه وتعالی موږ ته د هغه کس د بې شمېره اجرونو او نېکيو په اړه وايي، چې د دوښمن پر وړاندې په زړورتيا درېږي:

﴿أُوْلَئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا﴾

[ فرقان: ۷۵]

*ژباړه: دا هغه کسان دي چې د خپل صبر مېوه به د دنګې ماڼۍ په بڼه ومومي او هلته به يې په ادابو او سلامونو سره هرکلی کېږي.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عمرانه محمد**